په حقيقت کې دا دوه لمونځونه د منافقانو لپاره تر ټولو درانده لمونځونه دي او که تاسو په دې پوهيدلي چې په دې دواړو (لمونځونو) کې څه دي، نو تاسو به ورته راغلي وئ، که څه هم په خاپوړو واى

له أُبيّ بن كعب رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې: يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته د سهار لمونځ راکړ نو ويې ويل: «آيا فلانى حاضر دى؟» هغوى وويل: نه، ويې ويل: «آيا فلانى حاضر دى؟»: هغوى وويل: نه، ويې ويل: «په حقيقت کې دا دوه لمونځونه د منافقانو لپاره تر ټولو درانده لمونځونه دي او که تاسو په دې پوهيدلي چې په دې دواړو (لمونځونو) کې څه دي، نو تاسو به ورته راغلي وئ، که څه هم په خاپوړو واى ، او يقينا چې لومړى صف يې د ملايکو د صف په څېر دى، او که چېرته يې په فضيلت پوه شوي وئ نو ځانونه به مو وختي ور رسولي وو، او يقينا چې د يو سړي لمونځ د بل سړي سره له يوازې لمانځه څخه ډېر پاکيزه دى، او د دوو سړيو سره يې لمونځ د يو سړي سره له لمانځه څخه ډېر پاکيزه دى او هر څومره چې ډېريږي نو همغومره الله تعالى ته محبوب وي.

[صحيح دى] [ابو داود، النسائي او احمد روايت کړى دى]

يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم د سهار لمونځ وکړ، بيا يې پوښتنه وکړه چې: آيا فلانى زمور دې لمانځه ته حاضر شوى دى؟ صحابه و وويل: نه. بيا يې وويل: آيا فلانى حاضر دى؟ يو بل کس يې وښود، هغوى وويل: نه. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يقينا چې د سهار او ماخوستن لمونځونه په ټولو لمونځونو کې پر منافقانو زيات درانده لمونځونه دي؛ چې په دواړو کې پرې تمبلي غالبه وي، او څکه چې کمه ريا پکې کيږي، څکه چې په تياره کې نه ليدل کيږي. او اى مؤمنانو! که چېرته پوهېدلئ چې د سهار او ماخوستن په لمونځونو کې څومره زيات اجر او ثواب دى- څکه چې زيات اجر د سخت په اندازه وي - نو تاسو به ورته راغلي وئ که څه هم په سينه راخښېدلئ او يا په خاپوړو راتلئ. او يقينا چې امام ته د نږيوالي له امله لومړى صف داسې دى لکه د ملائکو صف چې الله تعالى ته نږدې وي، او که مؤمنان د لومړي صف په فضيلت پوهېدلى نو يو له بل سره به يې پکې سيالي کړې وه. د يو سړي لمونځ له بل سړي سره (په جماعت) د هغه د لمانځه څخه ډېر اجر او تاثير لري چې يوازې يې وکړي، او له دوو سړيو سره يې (په جماعت) لمونځ له يو سړي سره د لمانځه کولو څخه غوره دى، او په کوم لمانځه کې چې لمونځ کوونکي زيات وي، نو هغه لمونځ الله تعالى ته محبوب او غوره وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/11306